دویم درس

تابش پوهنتون

ژورنالیزم پوهنځی

اړوپوهنه / پنځم سمستر

استاد: سمیع الله ((ساپی))

بسم الله الرحمن الرحيم

د اړواپوهنې د مطالعې اصول

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د اړواپوهنې موضوع ذهن دی او د ذهن مطالعه په مستقیمه توګه ناشونې ده؛ نو موږ هغه فعالیتونه چې د انسان د ذهن څخه سرچینه اخلي مطالعه کوو، چې هغه سلوک بلل کېږي.

همدا راز اړواپوهنه نه شي کولای مغز یا حافظه مطالعه کړي ؛ بلکې د حافظې اومغز پورې اړوند عکس العملونه مطالعه کوي مثلا :دا هلک قوي حافظه لري او دا ضعیفه...

له بيولوژي سره د روان پوهنې اړيکه

۱- بيولوژي انسان د جوړښت له نظره مطالعه کوي او روان پوهنه يې يوازې د سلوک له نظره مطالعه کوي.

۲- بيولوژي د انسان مختلف سېستمونو مطالعه کوي؛ خو اروا پوهنه سلوک ، رفتاراو محيطي عوامل ترڅېړنې لاندې نيسي.

له اجتماعی علومو سره دارواپوهنې اړیکه

د انسان رفتار ،سلوک اوهمدارنکه د انسان ټول روانې فعالیتونه د ټولنې سره اړیکه لري ، ځکه انسان یو اجتماعي موجود دی ؛نو په همدې دلیل روان پوهنه له اجتماعي او ټولنیزو علوموسره اړیکه پیدا کوي،چې دا اړیکې په اجتماعي اړواپوهنه کې په پوره ډول لیدلای او لوستلای شو.

دطبي علومو سره د روان پوهنې اړيکې

روانې حالت په روغتيا او نا روغتيا ډېر تاثير کـوي، ډاکټـر هغه وخت د مريض سره تداوي کولای شي، چـې د نـاروغ په روانې حالت سره پوه شي ،همدارنګه ډېرې نـاروغۍ د روانې ستونزو د پيـدا کېـدا سـبب ګرځـي.دا اړيکـې پـه کلينيکي روان پوهنه کې زياتې ترسترګو کېږي

له ښوونې او روزنې سره يې اړيکه

ښوونکي هغه وخت ښه زده کړه ورکولای شي ،چې د زده کوونکو فردي توپيرونه وپېژني او هغوی په روانې او استعدادي لحاظ ښه وپېژني ،روزنيزه (تربيتي)، د ماشومانو انکشافي روان پوهنه او د يادېدلو روان پوهنه له مور سره د زده کړې په پروسه کې پوره مرسته کولای شي .

او له نورو علومو سره ...

د اړوپوهنې لنډه تاریخچه

د روانشناسۍ علم د نورو علومو په شان خپل مختلف مراحل طی کړي دي ،که مورد روانشناسۍ علم تاریخ ته نظر وکړو وبه ګورو ،چې اوسني انسانان پخوا دې ته مجبورېدل، چې ځنې پدیدې لکه خوب لیدل ،وېره ،تشویش ،قهر ،غم ،خوښي ،زړورتوب ،عشق،مینه اونور پلټي چې دغه پلټنه دبشر دځان پېژندلوته زیاته متوجه وه.

په هغه وخت کې انسانانو ته دا پوښتنې پیدا کېدې چې انسان څنګه د خوب په حالت کې د یوځای څخه بل ځای ته سفر کوي اوډېر کارونه سرته رسوي ؟ د دې سوال لپاره دارنګه ځواب ورکول کېده ،چې دانسان دبدن په داخل کې یوغیر عادي انسان بندي شوی دی ،چې د خوب په حالت کې د انسان له بدن څخه راوځي اوپه مختلفو ځایونو کې مختلف فعالیتونه

سرته رسوي اوکوم وخت چې انسان راويښ شي په اتومات ډول دغه غير عادي انسان په وجود کې بندي کېږي او د مرګ په حالت کې دانسان څخه دايمي ډول فرار کوي، چې د هغوی په نظر دغه غير عادي انسان نفس يا روح و،ليکن کوم وخت چې افلاطون يوناني فيلسوف منځته راغی هغه روح دارنګه تعريفوي: ((روح دعقل مجموعه ده ،چې په تن حکومت کوي)).

د ارسطو يوناني فيلسوف په زمانه کې هم روانشناسي د فلسفې تر تاثير لاندې مطالعه کېده ،ارسطو عقيده درلوده ،چې روح د بدن له عکس العمل څخه بل شی نه دی.

په بل ځای کې ارسطو د روح په برخه کې دا رنګه نظر ورکوي :((روح يو مجرد جوهر دی، چې دخپلې بقا لپاره مادې ته ضرورت نه لري.))

د ارسطو دغه نظریاتو د روانشناسۍ دعلمي کېدو لپاره ډېر کمک کړی
دی یوبل عالم چې ډیکارت نومېده هم دافلاطون په شان دروح او تن
په موجودیت عقیده درلوده ،د دغه ټولو هلو ځلو سره بیا هم
روانشناسي د فلسفې تر تاثیر لاندې مطالعه کېده ،لیکن د دغه
کوښښونو په پایله کې دروانشناسۍ دوه مهم مکتبونه منځته راغلل،
چې لومړی مکتب یې د تداعي معاني څخه عبارت دی، چې ددې
مکتب اساس ایښودونکی ارسطو یوناني فیلسوف دی.

کله چې ذهني او عقلي عملونه سره یوځای واقع شي داسې پیوند پیداکوي چې د وقفې په صورت کې بله خاطره د انسان په ذهن کې خطور کوي چې دغې حالت ته تداعي معاني وایي.

منه

واتساپ

0782 88 6000